لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتـــــون

مالي او اداري چارو معاونیت

مالي امریت

# د جعلي او شکمنو پیسو د پېژندنې میکانیزم

کال:۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

**سریزه**

تابش پوهنتون په ۱۳۸۸ هـ.ل کال کې د افغانستان لوړو زده کړو وزارت سره په ۲۱ مه گنه ثبت او راجستر شو او په کابل ښار کې يې په فعاليت پيل وکړ، چې څلور پوهنځي (حقوق او سياسي علوم، اقتصاد، شرعيات او کمپيوټر ساينس) لري،تابش پوهنتون په کال ۱۳۹۱ هـ.ل کې خپله لومړنۍ ځانگه په ميدان وردگو ولايت کې پرانيسته، د رهبرۍ او علمي کادرونو په هڅو په ۱۳۹۵ هـ.ل کال کې يې د لوړو زده کړو وزارت له ارزيابۍ څخه وروسته په برياليتوب سره د پوهنتون سويې ته ارتقاء وکړه، چې په کال ۱۴۰۱ هـ.ل کې له کابل څخه ننگرهار ولايت ته انتقال شو، تابش پوهنتون په يادو څلورو پوهنځيو کې سلگونه نارينه او ښځينه محصلين فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، تابش پوهنتون د محصلينو د ښې روزنې لپاره کادري استادان، ښه درسي ماحول، مجهزه کتابخانه، کمپيوټر خونه او نور سهولتونه برابر کړي دي، دغه پوهنتون باور لري چې هېواد د تعليم او تحصيل له لارې د سيالۍ هر ډگر تود ساتلی شي؛ نو د هېواد د سرلوړۍ لپاره يې دغه باورمنه لاره غوره کړې ده

د هر بنسټ مالي شفافيت او د قانون حاکميت د هغه د اعتماد، دوامدار پرمختگ او اعتبار بنسټ جوړوي. تابش پوهنتون، چې د علمي، اداري او مالي معيارونو د لوړولو ژمنه لري، هڅه کوي چې د هر ډول جعل، فساد او ناقانونه کړنو مخنيوی وکړي. له دې امله، د جعلي او شکمينو پيسو د پېژندنې او مخنيوي لپاره يو واضح، مؤثر او عملي ميکانيزم ته اړتيا ده، څو نه يوازې د پوهنتون مالي امنيت تأمين شي، بلکې د کارکوونکو او مراجعينو ترمنځ باور هم زيات شي.

دغه ميکانيزم به د جعلي پيسو پېژندنې وسايل، روزنيز پروگرامونه، د پيسو د سپارلو او تاييد مسؤليتونه، او اړوند راپور ورکونې کړنلارې روښانه کړي دي ، دا اقدام به د مالي فساد پر وړاندې يو مهم گام وي او د پوهنتون د روڼتيا فرهنگ ته وده ورکړي.

## لومړی فصل

## عمومي احکام

**لومړی ماده: د میکانیزم موخې**

دا مکانیزم لاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره وضع شوی دی:

١ .د مالي شفافیت تأمین

٢ .د جعلي پیسو د منلو مخنیوی

٣ .د کارکوونکو ظرفیت لوړول

۴ .د اعتماد فضا رامنځته کول

**دویمه ماد: د تطبیق ساحه**

دا مکانیزم د تابش پوهنتون په لاندې برخو او ساحاتو کې د تطبیق وړ ده:

1. **مالي څانګه** : د نغدو پیسو د ترلاسه کولو، تادیه، تصفیې او ثبت پر مهال
2. **تحصیل فیسونو راټولونه** : د زده‌کوونکو له‌خوا د فیسونو د ورکولو پر وخت
3. **اداري تعاملات** : د قراردادونو، تدارکاتو او بهرنیو مالي معاملو پر مهال
4. **بانکي تعاملات** : د چکونو، سپارښت پاڼو او نقدو پیسو لیږد پر مهال
5. **نغدي صندوقونه (Cash Boxes)** : د نغدو پیسو د ساتنې، شمېرلو او انتقال پر مهال
6. **د محصلینو چارو مدیریت** : کله چې محصلین د اسنادو یا خدماتو لپاره فیس ورکوي
7. **د حساب ورکونې برخې** : د مالي راپورونو او څېړنو پر وخت د پیسو د اعتبار ارزونه

**دریمه ماده: د مکانیزم تطبیقونکې او څارونکې مراجع:**

لاندې مراجع د دې مکانیزم د تطبیقونکې او څارونکې دي:

1. خزانه دار
2. مالي چارو امریت
3. مالي کمیټه
4. مالي او اداري چارو معاونیت

**څلورمه ماده: د جعلي پیسو د معلومولو په موخه د روزنیز پراګرامونه نیول:**

پوهنتون مکلفیت لري چې لاندې برخو کارمندانو د د جعلي پیسو د معلومولو په موخه د روزنیز پراګرامونه دایر کړي:

1. خزانه دار
2. مالي چارو امریت
3. مالي کمیټه
4. مالي او اداري چارو معاونیت

## دویم فصل

## مسؤلیتونه او راپور ورکونه

**پنځمه ماده: مسؤولیتونه او راپور ورکونه:**

1. **هر شخص (حکمي او حقیقي)** که جعلي پیسې ترلاسه کړي، مکلف دی چې:

   1. **ژر تر ژره** دغه پیسې نږدې امنیتي ادارې (پولیس) یا د افغانستان بانک ته وسپاري.
   2. د پیسو د ترلاسه کولو څرنګوالی **واضحاً راپور کړي**.
   3. د قضیې د حل لپاره همکاري وکړي.

2. **پوهنتون (یا اداره)** که د جعلي پیسو احتمال وي:

   1. د مالي څانګې مسؤولان مکلف دي چې د هر ډول شکمنې پیسې مؤقتاً توقیف او ثبت کړي.
   2. راپور یې د پوهنتون رهبري، امنیتي ارګانونو او اړوندو مقاماتو ته واستوي.
   3. د نغدو پیسو کارکوونکي باید له پیسو سره د چلند لپاره ځانګړی روزنه ولري.
   4. که چیرې په پوهنتون کې شکمن یا جعلي پیسی د مالي امریت لخوا ونیول شو جعلي پیسی د مالي امریت لخوا قید کیږی او راپور یی مالي او اداري چارو معاونیت سره شریک کوی
   5. د جعلي پیسی په برخه کې د اختستونکې شهرت په فورمه کې ذکر کیږی او یاد جعلي پیسی د مالي امریت لخوا پنج کیږی د یاد فورمی سره ضم د پوهنتون نظم او ډیسپلین کمیتی ته د بعدي اجرااتو لپاره استول کیږی
   6. د پوهنتون نظم او ډیسپلین کمیته په یاده موضوع کې د پریکړې څخه وروسته موضوع مالي امریت ته د اجرااتو لپاره په مکتوبی ډول لیږل کیږي

**شپږمه ماده: اصلي او جعلي پیسو پېژندنه تخنیکونه**

پوهنتون د اداري اړونده کارمندان د لاندې لارو څخه جعلي او شکمنې پیسې معلوموي:

| ځانګړتیاوي | اصلي پیسې | جعلي پیسې |
|---|---|---|
| کاغذ | ځانګړی او سخت وې | نرم او عادي وی |
| اوبو نښه | شفاف او ښکاره وی | چاپ شوی یا ورک وی |
| امنیتي تار | ښکاره لیکل شوې وې | نه وي یا غیر منظم وی |
| رنګ | رنک بدلونکې | یو ثابت رنګ وې |
| UVنښه | مخصوص نښی لری | نلري یا خرابی وی |
| پیسو شمېرلو ماشین | اصلي پیسې نه تموي | جعلي پیسې تموي او له ماشین څخه یې وباسي. |

**دریم فصل**

**متفرقه احکام**

**اومه ماده: ملي هويت ته احترام او ساتنه**

1. تابش پوهنتون ټول پرسونل مکلفيت لري چې د خپل ګران هېواد ملي هويت يا کرنسي ته پوره احترام ولري او په ساتنه کې د خپل وس مطابق هلې ځلې وکړي.
2. په هغه صورت کې چې د جعلي پيسې د ورکوونکي لخوا قصدي وي نو پدې صورت اړونده دولتي اداراتو ته معرفي کيږي.

**اتمه ماده: انفاذ او ټکر:** دغه مکانيزم د مالي کميټې له تصويب وروسته نافذ دی او که چيري کومه برخه کې د افغانستان بانک د تقنينيي اسنادو سره په ټکر کې وي، نو د افغانستان بانګ تقنيني اسنادو ته ارجحت ورکول کيږي.

په پورته ډول د د جعلي او شکمنو پيسو ميکانيزم او پوهنتون د مالي کميتې ( ۴ ) ۲۲ /۴ /۱۴۰۴ هـ ش کال غونډه کې د هر اړخیر بحث وروسته تائيد او تصويب شوو.

**پوهنيار عبدالحميد سيرت**

**تابش پوهنتون رئيس**

.